مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۷/۲۵

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## دوه سوه‌دولسمه برخه

**ما ویل دا تولله مځکه اور ده**
**مکتب مې بند دی، زه به چا ته کړم عرضونه**

**که غږ مې اورې، اواز وکه**
**د سر کوپړی مې ښايي دړېوړې شينه**

**زما توتي - توتي زړګيه**
**چې مازديګر شي له فيسبوک دې تولومه**

د لنډيو د دې برخې لپاره مې دا لنډۍ راټولې کړې دي:

**پر زړهٔ مې څه بلا پرته ده**
**عالم ته روغه په خندا ولاړه يمه**

**جنکه د ځان سره دې بیایم**
**له ګرنګونو نه دې ښکته غورځومه**

**لاليه غبرګ راسره ژاړه**
**د جدايي خبرې مونږ خرابوينه**

**د پاچاهۍ لايقه ياره**
**چې په اوربل دې غبار کينې وژاړمه**

**جانان به سر راپورته نه کړي**
**که د خازې خوا کې ولاړه وچه شمه**

**له غريبۍ مې ګيله وشي**
**ګنې د څنګ ملګري هيڅوک نه پرېږدينه**

**ما ویل دا تولله مځکه اور ده**
**مکتب مې بند دی، زه به چا ته کړم عرضونه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د بل وطن په مېلو ورکه
د مور نازکه غم دې تکه ژېړه کړمه

کۀ غږ مې اورې، اواز وکه
د سر کوپړی مې ښايي دړېوړې شينه

و به دې نه ببنم جانانه
زما پرزړه باندې دې ايښې دي اورونه

زما ټوټې - ټوټې زړګيه
چې مازديګر شي له فيسبوک دې ټولومه

د سوي لاس پوښتنه کېږي
د سوي زړه پوښتنه هيڅوک نه کوينه

يو د وطن غمونه ډير دي
بل مې د ښې ورځې ياران بايللي دينه

د سپينې خولې حجاب مې مات شو
د ژاولــو ټک مې هــلــکــانــو واوريــدنــه

چې غلې نه شې، پام دې نيسه
اوس هغه نه يم اندېښنو خوړلې يمه

د خوشالي دښمن ته وايه
سبا اختر دی، څوک دې نۀ ازاروينه

د کوټې تير راباندې پروت وای
راباندې نه وای د زاړه سړي لاسونه

له مجبــورۍ مې کــډې بــار کــړې
چې مجبور نه وې، څوک خيالي کابل پرېږدينه

په چا به کور کلی ورانيــږي
په چا ورانيــږي تر کابله وطنونه

څنګه د يو بل ليوني وو
څنګه مو واخستل له يو بل نه لاسونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ